د سپوږمۍ او لمر کیسې
لومړۍ کیسه

# سپوږمۍ کیمیاپوه کېږي





د سپوږمۍ او لمرکيسې
لومړۍ کيسه

ISBN: 978---3-911-116--
9 783911 116039

د سپوږمۍ او لمر کیسې
لومړۍ کېسه

# سپوږمۍ کیمیاپوه کېږي

نوم: د لمر او سپوږمۍ کیسې/ سپوږمۍ کیمیاپوه کېږي.

سني ډله : ج-د

لیکوال: بهرام رحمان
ژباړه: نسرین حمیدي
ایډیټر: انور وفا سمندر
انځور اخستونکی اوډیزاینر: محمد مهدي حفیظي
خپرونکی: انجمن آباد - برلین
د خپرېدو کال: ۱۴۰۲ لمریز -۲۰۲۳ میلادي کال

ددې آثر ټول معنوي حقوق په « آباد بنسټ » پورې اړه لري د انځورونو او محتوا له تغیر پرته يې په بریښنایي ډول خپرول جواز لري.
په چاپي بڼه ددې کتاب د بیا خپریدلو له امله باید خپروندې ته په لیکلي بڼه خبر ورکړل شي.

ISBN: 978-3-911116-03-9
admin@abad-berlin.de

«نن به په ښوونځي کې څه تېر شوي!؟» سپوږمۍ ټوله ورځ په دې
تلوسه کې وه، چې له ملګرو د نوي درس په اړه واوري!



سپوږمۍ او لمر غبرګوني خور او ورور دي. په ماشومتوب کې به يې همېشه له يوبل سره لوبې کولې. دوی دواړو ښوونځی هم يو ځای پيل کړی و. دواړه ډېر خواږه دوستان ول.



له هغه وخته چې د نجونو پرمخ ښوونځي وتړل شول؛ نو سپوږمۍ مجبوره شوه، چې له کوره ونهوځي او له مور او نیا سره د کور په کارونو کې ځان بوخت کړي؛ خو زړه یې په ښوونځي پسې ډېر خفه و!





«هرڅه د کیمیا باره کې و.»

دا ورو او ټیټ ځواب د لمر و. هغه په نالښت ووېل: «ورک یې که؛ ډېر سخت و!». د لمر پر څېرې اندیښنې سیوری غوړولی و. هغه د را روانې میاشتې د ازموینو په چرت کې تللی و.





سپوږمۍ ورته موسکه شوه او ویې ویل: «ځه نو، دومره به هم سخت نه وي!». هغې یو غاپ کلچې له یوې پیالې هېلرونکی چای سره، د لمر مخې ته کېښودې. د هېل عطرو د کوټې فضا ښه جوړه کړه.

سپوږمۍ د لمر  د کتابونو بکس ته وکتل؛ هغې غوښتل، چې د هغه د کیمیا تازه درس وګوري.

سپوږمۍ ځان سره وویل: «ایا کیمیا رښتیا دومره سخته ده، چې لمر وایي!؟».



لمر چې خوله يې له کولچو ډکه وه، وويل: «يوه ته يې، چې په
کيميا او رياضۍ دې داسې زړه بايللی!»



له څه شخوندوهلو وروسته يې زياته کړه: «خبره يې کنه؛ د موږ اول‌نمره هم د تا برابر کيميا نه ده زده! هغه نور چې ګېم‌بازيو باندې وخت تېروي، خو هېڅ مه يادوه!»



سپوږمۍ معصومانه خندا وکړه او ځواب یې دا و: «هغوی نه پوهېږي، چې طبیعي علوم او بیا دغه کیمیا، څومره جالب دي!»

هغې ته هغه ورځې ور په زړه شوې، چې ښوونځي ته به تله! هغه مهال نجونو لپاره ډېر فرصتونه و.

د سپوږمۍ پر ماشومه څېره د خفګان لړې را خورې شوې. هغې د خیال په دنیا کې، خپلو ښوونکو او ټولګیوالو پسې کتل. زړه کې یې تېره شول: «آیا بل ځل به هم هغوی ووینم؟»





سپوږمۍ وویل: «کیمیا مې ډېره خوښېږي؛ د درس له اولې ورځې مې په زړه ښه ولګېده!» له یوه اسویلي وروسته یې زیاته کړه: «ما عجیبه خوب لیدلی و، چې یوه ورځ به خپلو هېوادوالو ته د سینګارشیانو، لویه فابریکه جوړوم.»

سپوږمۍ په اوښلنو سترګو، لمر سره د زړه غم شریکاوه: «نور نو زموږ نجونو لپاره،
د داسې خوبونو لیدلو هم اجازه نشته!».



لمر په ارامۍ وویل: «سپوږمۍ! زه باور لرم، چې ته به دې ټول خوبونه رښتیا کړې!». بیا یې زیاته کړه: «دغه نابرابري عادلانه نه ده. خو په یاد ولره، چې هیڅوک نشي کولای تا د تل لپاره له زده کړو او لیک لوست څخه لیرې وساتي!»

لمر لږ دمه وکړه او بیا یې په مهربانۍ خور ته وویل: «موږ کولای شو، له یوبل سره درس ووایو! زه به ټول هغه څه چې په ښوونځي کې یې زده‌کوم، تاته در وښیم. څومره چې مې وس رسیږي، هومره کتابونه درته راوړم. نو له درسه هیڅ څټ ته نه پاتې کیږې!»





سپوږمۍ په خواږه نظر خپل ورور ته وکتل؛ او په ډاډه زړه یې ورته وویل: «ماته ته ریښتیا وایې! زه له ځان او بیا له تا سره کولی شم، درسونو ته ادامه ورکړم. ګوندې یوه ورځ نه یوه ورځ به خپل دغه خوب پوره کړم.»







سپوږمۍ د کیمیا کتاب پرانست او ویې ویل: «اوس نو د نن ورځې درس راوښیه! دواړه به یې یوځای ووایو، چې د دواړو زده شي. خیر که ټوله شپه مو په ډوډۍ او اوبه څکه هم ونه کړه!»

لمر وویل: «بې ډوډۍ او بې اوبو؛ کله کېدای شي! نه بابا؛ نشي کېدای، ټوکې مه کوه! زه خو له همدې اوسه له لوږې بې‌هوښه کېږم»!

سپوږمۍ‌په موسکا او شوخۍ ځواب ورکړ: «ښه نو؛ بیا وروسته کولی شې، چې موږ ټولو لپاره د شپې ډوډۍ هم پخه کړې. په خوندور پخلي پسې دې زه او مورجانه ډېر خفه شوي یو!»

لمر چیغه کړه: «اوو... نه!» او دې سره دواړو ښه وخندل او بیا دواړه په کتاب بوخت شول.



